


دکتور حبیب الله تږی

## خلجیان او غلځیان

یو شمېر مؤلفین او څېړونکي زړو اسلامي آثارو ته د اشارې په بنا وائي چې یو وخت خلجیان چې اصلاً ترکان وو زابلستان ته ولېږدېدل. هلته مېشته شول او خپله ژبه او عادات ئې هېر کړل. د زابلستان د خلقو ژبه او عادات ئې کسب کړل او پښتانهٔ غلجیان یا غلځیان ترې جوړ شول.

تر کوم حده چې ماته معلومه ده، تر ټولو نه پخوانے اثر چې د زابلستان په ځائي خلقو کښې د ترکي خلجیانو د منحلېدو خبره پکښې یاده شوې، هغه د محمد بن نجیب بکران جهان نامه ده چې په کال ۶۰۵ هجري کښې لیکل شوې او په کال ۱۳۷۵ کښې د دوکتور امین ریاحي په همت په تهران کښې خوره شوې ده.

جهان نامه وائي چې د ترکانو یو قوم د خلج د خلخ له شاوخوا نه زابلستان ته ورواوښت او په یوه بېدیا کښې چې د غزني خوا ته پرته ده مېشت شو. وروستو ئې د هېواد د ګرمۍ له امله څېره بدله او تور بخنه او ژبه ئې بله شوه. (۴۷)

څهٔ رنګه چې د خلجیانو د مهاجرت او د زابلستان په ځائي اوسېدونکو کښې د هغوي د منحلېدو یادونه په جهان نامه کښې شوې ده او څهٔ رنګه چې جهان نامه په (۶۰۵ هجري) کښې لیکل شوې ده نو د خلجیانو د مهاجرت او په زابلستان کښې د هغوي د منحلېدو پېښه، طبعاً له ۶۵۰ هجري نه پخوا شوې ده.

د جهان نامې له متن نه دا هم په صراحت ښکاري چې د دغو مهاجرو څېره او ژبه د جهان نامې د لیکنې له وخت نه پخوا بدله او توربخنه شوې او ژبه ئې هم له دې نه وړاندې بله شوې ده.

کهٔ څوک د جهان نامې خبره مني هغه به ضرور دا هم مني چې ترک خلجیان د شپږمې هجري پېړۍ له اواخرو نه ډېر پخوا زابلستان ته ورلېږدېدلي دي. ځکه په هغې زمانې کښې د خلجیانو په شان د یوهٔ غښتلي قوم دومره بدلېدل او د زابلستان په یوهٔ ځائي قوم کښې ئې بېخي منحلېدل باید د کلونو او لسیزو نه بلکې د پېړیو کار وي او په دې حساب سړے په پوره اطمینان وئیلے شي چې ترک خلجیان به لږ تر لږه په دوهمه یا دریمه هجري پېړۍ کښې زابلستان ته لېږدېدلي او بیا د هغې سیمې په ځائي خلقو کښې منحل شوي وي.

کوم څېړونکي او مؤلفین چې وائي ترکي خلجیان د زابلستان په ځائي خلقو کښې منحل شوي او په نهایت کښې په پښتنو غلځیانو بدل شوي دي هغوي په حقیقت کښې دا خبره تصدیقوي چې لږ تر لږه د دوهمې او دریمې هجري پېړۍ په حدودو کښې د زابلستان ځائي اوسېدونکي پښتانهٔ وو. ځکه جهان نامه وائي چې ترکو خلجیانو خپله ژبه بائلوده او د زابلستان د ځائي اوسېدونکو ژبه ئې زده کړه. کهٔ ترکو خلجیانو د زابلستان د ځائي خلقو ژبه زده کړې وي، کهٔ د غلځیانو ژبه تر اوسه پښتو وي او غلځیان او خلجیان هم سره یو شي وي، نو د خلجیانو د مهاجرت په وخت کښې به د زابلستان د ځائي اوسېدونکو ژبه هرومرو پښتو وه. کهٔ نهٔ وي نو نه باید خلجیانو پښتو زده کړې وي او نهٔ باید د غلځیانو ژبه پښتو وي.



خو ځنې کسان بیا له یوې خوا وائي چې ترک خلجیان زابلستان ته لېږدېدلي او د هغې سیمې د ځائي خلقو ژبه او عادات ئې کسب کړي او پښتانهٔ غلځیان ترې جوړ شوي دي او له بلې خوا بیا وائي چې ((پښتنو په څوارلسمه او پینځلسمه (میلادي) پېړۍ کښې د غزني سطح مرتفع اشغال کړه.)) (۴۸) او دا دوه خبرې اړخ سره نهٔ لګوي. ځکه کهٔ خپله پښتانهٔ غزني او زابلستان ته په اتمه او نهمه هجري پېړۍ کښې ورلېږدېدلي وي نو ترک خلجیان بیا څنګه، په هم دې ځائے کښې له دې نه ډېر پخوا یعني د دریمې او څلورمې هجري پېړۍ په حدودو کښې خلقو کښې د دریمې او څلورمې هجري پېړۍ په حدودو کښې منحل شوي او پښتانهٔ غلځیان ترې جوړ شوي دي. نو بیا دا خبره څنګه کېدے شي چې پښتانهٔ له دې نه ډېر وروستو یعني د اتمې او نهمې هجري پېړۍ په حدودو کښې غزني او زابلستان ته ورلېږدېدلي دي؟

له دې دوو خبرو نه یوه هرومرو غلطه ده. خو دا چې کومه ئې غلطه ده؟ د دې سپینول هغه چاته ور په غاړه دي چې وائي ترک خلجیان د زابلستان په ځائي خلقو کښې منحل شوي او پښتانهٔ غلځیان ترې جوړ شوي دي.

## پښتانهٔ د کابل په سیمو کښې:

پخوانو آثارو په کابل کښې هم د پښتنو یادونې کړې دي. د ابن بطوطه سفرنامه تر ټولو نه پخوانے معلوم اثر دے چې وائي په کابل کښې افغانان اوسېږي. کله چې ابن بطوطه په ۱۳۳۳ میلادي سنه کښې له کابل نه تېرېږي وائي چې د دغه ځائے اوسېدونکي افغانان دي. دې لیکي چې ((کابل پخوا یو لوئے ښارؤ خو اوس یو کلے ترې پاتې دے او د عجمیانو یوه طائفه چې افغانان نومېږي پکښې اوسېږي. افغانان په غرونو کښې ډېرې کلکې مېنې لري او ډېر غښتلي خلق دي.)) (۴۹)

ابن بطوطه خبري ته دوام ورکوي او ليکي چې «هلته د سلېمان د غرۀ په نامه يو ستر غر دے، د افغانانو باچا هم هلته اوسېږي.» [۵۰]

ابن بطوطه په خپله سفرنامه کښې په کابل کښې د يوۀ وتلي ستانه افغان نوم هم اخلي او وائي چې «په کابل کښې د شېخ اسماعيل افغاني په نامه يوه خانقاه هم شته (او شېخ اسماعيل افغاني) د شېخ عباس نومې ستر ولي شاګرد ؤ.» [۵۱]



اما کوم اثر چې د کابل په ښار او شاوخوا سيمو کښې په پينځلسمه ميلادي پېړۍ کښې، د پښتنو د حالاتو په باره کښې ښائسته مفصل بحث لري هغه تواريخ حافظ رحمت خاني دے. په تواريخ کښې د هغۀ مهاجرت په ترڅ کښې چې وائي يوسفزو د پښتنو د پينځلسمې ميلادي پېړۍ په حدودو کښې د قندهار له سيمو نه غزني او کابل ته کړے دے، راغلي چې «يوسفزي د کابل په سيمو کښې د ډېر حشمت او شوکت خاوندان شول او د کابل ټول حدود او مضافات ئې تر خپل تصرف لاندې راوستل.» [۵۲]

بيا ليکي چې د کابل باچا الغ بېګ ميرزا ؤ خو اصلي قدرت او واک اختيار د يوسفزو د مشر ملک سلېمان شاه په لاس کښې ؤ. [۵۳]

بيا ليکي چې په کابل کښې يوسفزي هرګوره غالب وو. د ميرزا الغ بېګ پروا ئې نۀ لرله. د خپل اختيار څښتنان وو هر چې ملک سلېمان شاه او يوسفزو کول هغه به کېدل... اسماعيل د مزکت زوے هسې يو بدمست او ظالم شرابي ؤ چې اصيل خلق به ئې په زور نيول او په يوه پياله د شرابو به ئې خرڅول او په بازار کښې به ئې په زور ظلم نرخ نرم کړو او څيزونه به ئې اخستل او نياو ئې چا نۀ شۀ کاوۀ. [۵۴]

تواريخ داسې ښيي چې د پينځلسمې په دوهمه نيمايۍ کښې پښتانۀ په کابل کښې او د کابل په شاوخوا سيمو کښې مېشته او مسلط خلق دي. دا چې په دې سيمو کښې څومره پښتانۀ اوسېدل، په دې باره کښې سړے په يقيني ډول څۀ نۀ شي وئيلے خو تواريخ دا خبره په صراحت کوي چې د کابل د هغه وخت واکدار، الغ بېګ يواځې د يوسفزو د قوم اوۀ سوه مشران په يوۀ ورځ ووژل. [۵۵]

په کابل او شاوخوا سيمو کښې د پښتنو د استوګنې او حالاتو په باره کښې په بابر نامه کښې هم ډېر څۀ راغلي او مونږ وروستو په اووم فصل کښې راوړي دي.

## غمرازي

په کراچۍ کښې د اې اېن پي د سنټرل کمېټۍ د ممبر محترم حاجي سلطان روم سواتي صاحب دوه زامن اماني روم او نجيب الله خان چې عمرونه ئې په ترتيب سره شپاړس نيم او څوارلس نيم کاله وو، د کراچۍ په سمندر کښې ډوب او په حق ورسېدل. پښتون اداره په دې دردونکي غم کښې د محترم حاجي صاحب سره برابره شريکه ده. مونږ د لوئے خدائے په دربار کښې د هغوي د بخښنانې سره سره د هغوي پسماندګانو ته د زړۀ د صبر او غم دعا هم غواړو. خدائے دې د هغوي په تازه پرهرونو د خپل رحم پټۍ ولګوي.